د ګران هېواد د خپلواکۍ د۹۶مې کلیزې په مناسبت

د افغان ملي غورځنګ د مبارکۍ پیغام

کابل — چهارشنبه ، د زمري اته ویشتمه ۱۳۹۴

د زمري ۲۸ مه زمور د ویاړلي تاریخ هغه نېکمرغه ورځ ده چې د غازي امان الله خان تر مشرۍ لاندې افغانانو له انګریزي استعمار نه د خپلې خپلواکۍ په ډګر دفاع وکړه. افغان ملي غورځنګ ټول افغان ملت ته د زړه له کومې د دې ویاړمنې ورځې مبارکي وایي.

په داسې حال کې چې له کلونو راهیسې د ملي هویت دا ارزښتمنه ډالۍ له یاده ایستل شوې او یواځې په مختصرو مراسمو او اعلامیې خپرولو بسنه شوې ، پکار ده چې د برم او ویاړ د یاد دا فرصت په رنګینو مراسمو ونمانځل شي. افغان ملي غورځنګ د دې ورځې د نمانځنې په موخه د پراخو مراسمو تابیا کړې وه خو په کابل کې د تېرې اونۍ خونړي بریدونه یوه خوا او ملي هویت او افغان ځمکنۍ بشپړتیا ته وروستي ګواښونه بله خوا د دې لامل شول چې د دې اعلامیې له لارې په خپل ولس یواځې د بشپړې هر اړخیزه خپلواکۍ د تر لاسه کولو لپاره غږ وکړو.

ملتونه د فکري خپلواکۍ په مټ د سترو قدرتونو ، ښکېلاکونو او نیواکګرو قوتونو په وړاندې د خپل ملي غرور ، ویاړ او برم ساتنه کوي ، افغان ملت د همداسې فکري خپلواکۍ په مټ په تش لاس انګریز او وروسته بیا شوروي مات کړ او دادی یو ځل بیا د نړیوالې ترهګرې د وحشت او دهشت په مخ کې تش لاس ولاړ دی. افغان ویاړلي ولس تل د سرونو په قربانیو خپله خپلواکي ګټلي ، یرغلګر یې مات کړي ، پردې پال یې رسواکړي او د پردیو شومې دسیسې یې په هسته کې ناکامه کړې ؛ خو د خپلواکۍ په ساتلو کې پاتې راغلي ، ددې لاملونه ګڼ دي ، خو تر ټولو ستر لامل یې سواد د کچې ټیټوالی ، د علم او پوهې څخه لرېوالی او بلاخره د ولسي مشرتابه نه‌شتون په ګوته کولی شو. افغان ملي غورځنګ د افغان انسان په تعلیم او تربیه ، سیاسي شعور لوړوالي او د ملي ارزښتونو پخپلولو ټینګارکوي. راځئ په ګډه ددې ورځې د نمانځلو په پلمه له جهالت سره جهاد ، د افغان انسان د فکري ودې اوپرمختګ لپاره د علمي مراکزو ، څېړنیزو جوړښتونو او د کتاب او قلم د کلتور د عاموالو تابیا وکړو.

په ورستیو ترهګریزو بریدونو کې کوښښ شوی چې افغان ولس په وحشت او دهشت کې ورک وساتلی شي ، د افغان ولس د ښوونې او روزنې مراکز ړنګ کړای شي ، د افغان ولس ترمنځ نفاق ته لمن ووهلی شي ، او بلاخره د سیمې او نړۍ

استخباراتي شبکې له دې لارې خپلو شومو اهدافو ته ورسيږي. ددې ټولو طرحو ماته او شکست د افغان ولس په اتحاد ، د ملي شعور په لوړوالي او يووالي کې نغښتی دی ، له دې امله ، غورځنګ د ولس تر څنګ ، اوږه په اوږه د هر ډول ترهګريزو بريدونو ، دسيسو ، او طرحو د شنډولو او برملا کولو کوښښ کوي او په دې لار کې به زيار وباسي تر څو ولس په يوه خوله جګړې ته نه ووايي ، او يوې افغاني ، معقولې او په ټولنيز عدالت ولاړې سولې ته لاره هواره شي.

افغان ملي غورځنګ د جګړې له دوارو خواوو څخه غوښتنه کوي چې د افغانستان د ملي ګټو ، ارزښتونو د ساتنې په پار ، د افغان ولس د خپلواکۍ د پالنې لپاره سولې ته لار هواره کړي ، د خپلو ګوندي ، شخصي او سمتي ګټو پر ځای ملي ګټو ته غاړه کيږدي ، او پرينږدي چې د افغان ملت تاريخي دښمنان له دې حالت څخه د ځان په ګټه استفاده وکړي.

هېواد په حساسو شرايطو کې دی ، بېلابېل ګواښونه زمورږ هويت او ځمکنۍ بشپړتيا ګواښي ، د دې ويارمنې تاريخي خاورې بچيان اوس د افغان انسان په توګه په ستره ازموينه او سختو شرايطو کې دي چې د ټولو مسؤليت دی چې بايد لاس په لاس کې ورکړي او د واقعي خپلواکۍ لپاره سره يو ځای شي.

افغان ملي غورځنګ يو ځل بيا په ټولو هېودوالو غږ کوي چې د خپلو تاريخي مسؤليتونو د ترسره کولو لپاره چې نن يې له ازموينې سره مخ کړي يو د يووالي او بېدارۍ لاره ونيسي او اجازه ورنکړي ، چې په دې حساسو شرايطو کې تاريخي ويارونه او برم له مسؤليت څخه بې پروايي رانه وترورې.

د يوه خپلواک او تل آباد افغانستان په هيله

افغان ملي غورځنګ